دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون مســــــــتقل انتخابات

دافغانستان اسلامــي جمهوری دولت
د ټــاکنــوخپلـــواکمیسیــون

Islamic Republic of Afghanistan

Independent Election Commission

---

# د ټاکنو په بهیر کې رسنیزو سرغړونو ته د رسېدو طرزالعمل

## مبني

دا طرزالعمل د ټاکنو قانون او د ډله ییزو رسنیو قانون د (۲۱) (۲۹)مادې پر بنسټ د ټاکنو خپلواک کمیسیون له لوري تاید او تصویب شوی دی. .

## موخه:

داطرزالعمل د ډله ییزو رسنیو د سرغړونو اړوند شکایتونو چارې چې له راپور ورکولو، ټاکنیزو سیالیو خپرولو سرچینه اخلي او یا ټولې هغه سرغړونې چې د ډله یزو رسنیو د موخو، پالیسیو او طرزالعملونو اړوند وي، تنظیموي.

## اصطلاحات

### لومړۍ ماده:

د اصطلاحاتو شرحه:

1. د رسنیو کمیسیون: هغه کمیسیون دی چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو قانون د (۲۱) مادې پر بنسټ د ټاکنیزو سیالیو د راپور ورکولو او منصفانه خپرولو د څارنې او د ټاکنو پرمهال د رسنیزو سرغړونو اړوند شکایتونو ته د رسېدو په موخه په موقت ډول جوړ کړی دی.
2. ډله ییزې رسنۍ: د دولتي او خصوصي په ګډون د چاپي او برېښنايي وسایلو له لارې د پیغامونو او معلوماتو د لېږد وسیلې دي.
3. انظباطي تدابیر: د دې طرزالعمل له اجرایي ضمانت څخه عبارت دی چې د پرېکړوخپرول، د باورلیک د له منځه وړلو وړاندیز، اخطاریه، د اصلاح امر، نغدي جریمه او اړوندو مراجعو ته د عدلي تعقیب په موخه د بېلابېلو اشخاصو معرفي کول په کې شامل دي.

4. **سرغړونه(تخلف)**: هر هغه څه چې د ټاکنو په دوران کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د رسنیو کمیسیون د قانون، لایحو او طرزالعملونو خلاف ترسره شي.
5. **تېروتنه (تخطي)**: غیر قصدي عمل دی چې نوماند ، د ټاکنو کارکوونکی، څارونکی، کتونکی، رسنۍ او د ټاکنو په بهیر کې د خیل نور کسان یې د نافذه لایحو او طرزالعملونو خلاف ترسره کوي.
6. **اخطاریه**:د رسنیو کمیسیون هغه رسمي ابلاغیه چې د رسنیو، تېروتونکي (خاطي) او سرغړونکي د متوجه کولو او اصلاح په موخه وي.
7. **د اصلاح امر**: رسنیو ته د ځواب، د تور د ردولو او بښنې غوښتلو په موخه د رسنیو کمیسیون دستور.
8. **نغدي جریمه**: سرغړونکي او تېروتونکي ته د رسنیو کمیسیون د پرېکړې له صادرولو وروسته په ۷۲ ساعتونو کې ټاکلي دولتي حساب ته د ټاکلي نغدي رقم سپارلو امر.

## رسنيزې سرغړونې

**دويمه ماده:**

1: د ټاکنو قانون د (61) مادې د مکلفیتونو نقض کول.

۲: د ناموثقو او غیر واقعي مطالبو او معلوماتو خپرول چې د یو شخص یا ډلې پر ضد د هېوادوالو احساسات زیانمن کړي.

۳: هغه مطالب او معلوماتچې خپرول یې د نوماندانو په شخصي حرمت او کرامت تېری وګڼل شي.

۴: په غیرمنصفانه، نامتوازن او جانبدارانه ډول د راپورونو خپرول.

۵: د بې بنسټه څرګندونو او تور ته ورته (افتراامیز)مطالبو چاپ او خپرول.

6: په رسنیزو چارو کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون، رسنیو کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د پرېکړو او تصمیمونو نه رعایتول.

۷:د غیر واقعي راپورونو او مطالبو خپرول.

۸: د ټاکنیزو سیالیو د رسمي دورې له پیل دمخه د نوماندانو د کمپاین خپرول.

۹: د سکوت په دوره کې د کړنلارو، موخو، پالیسیانو او ټولو هغو موادو خپرول چې په یو نه یو ډول د نوماندانو په ګټه یا زیان وي.

۱۰: له تلویزوني خپرونو او د ډله یزو رسنیو له ټولو خپرونو څخه د نوماندانو غیر قانوني ګټه اخیسته چې په هغو کې د چلولو او ویندویي دنده رسنۍ لري.

11: د دولتي رسنيو له لوري د ولايتي شوراګانو نوماندانو په ګټه يا زيان د پروګرامونو خپرول چې په اداري پلاوي کې وي او يا د مشرانو جرګې غړي وي.

12: په دې طرزالعمل کې ليکلو او يا ټولو هغو سرغړونو ته رسېدل چې د ډله ييزو رسينو د موخو، پاليسيانو او طرزالعملونو اړوند کېږي، د رسنيو کميسيون له واکونو څخه دي.

## شکايتونو ته د رسېدو ډول

**دريمه ماده:**

**الف: د شکايتونو ثبت**

(1) شکايتونه بايد له سرغړونې څخه ۷۲ ساعته وروسته د رسنيو کميسيون، د ټاکنو خپلواک کميسيون او يا د ټاکنو خپلواک کميسيون ولايتي دفترونو ته وړاندې شي.

(۲) د رسنيو کميسيون د شکايت موضوع هغه شخص يا بنسټ ته چې پر ضد يې شکايت شوی دی رسوي.

(۳) هغه کس يا بنسټ چې پر ضد يې شکايت شوی دی بايد د خبرتيا له ترلاسه کولو ۷۲ ساعته وروسته د شکايت په هکله د رسنيو کميسيون ته خپل ځواب برابر کړي.

(۴) د رسنيو کميسيون کولی شي ، د خپلو واکونو د محدودې موضوعاتو ته په خپل نوښت او د شکايت له موجوديت پرته رسيدګی وکړي.

(۵) د رسنيو کميسيون کولی شي هغه شکايتونه چې حقوقي بنسټ ونه لري، سملاسي رد کړي.

(6) کله چې کميسيون تثبيت کړي چې سرغړونه شوې، نو لاندې موارد عملي کوي:

الف) موضوع اروزي او څېړي يې.

ب) استماعيه غونډه جوړوي.

ج) د يادې سرغړونې په اړه تصميم نيسي.

(۷) د شکايت په اړه څېړنه د رسنيو کميسيون مسوول کوي او د رسنيو کميسيون پرېکړې ته په پام په ټاکلي وخت کې په ليکلي ډول د شکايت کوونکي ځواب وايي.

ب: استماعيه غونډې:

(1) د رسنيو کميسيون کولی شي شکايتونو ته د رسېدو او د ګواه د ګواهي د اورېدو په موخه استماعيه غونډه جوړه کړي.

(۲) د استماعيه غونډې په جوړولو کې کميسيون کولی شي:

الف) له ګواهانو وغواړي چې ګواهي ورکړي.

ب) د موضوع اړوند شواهد او مدارک وغواړی او ترلاسه يې کړي.

(۳) د امکان تر بريده په استماعيه غونډه کې د شکايت کوونکي او ځواب ورکوونکي د حضور ذمينه برابره کړي.

ج: تصمیمونه او پرېکړې:

د رسنیو کمیسیون هغه ټولې پرېکړې چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رسنیو کمیسیون د رامنځته کېدو لایحې له مخې نیول کېږي باید:

(1) ثبت شي او له ثبت وروسته په لیکلي ډول شکایت کوونکي او ځواب ورکوونکي ته وو ښل شي.

(۲) د عامه پوهاوي په موخه د کمیسیون په ویب پاڼه کې خپاره شي.

د: د رسنیو کمیسیون د پرېکړو ارزونه

(1) د رسنیو کمیسیون له تصمیم څخه زیانمن شوی شخص یا لوریکولی شي، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رسنیو کمیسیون د پرېکړې له اعلان ۴۸ ساعته وروسته د لیکلي یادشت له لارې د استیناف غوښتنه وکړي.

(۲) د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رسنیو کمیسیون له تصمیمونو څخه د رسنیو د چلند اصولو څخه د سرغړونې یا د خپلو واکونو په محدوده کې د ټولو مسایلو په هکله د هر ډول استیناف غوښتنې حق، د ټاکنو قانون د 61 مادې او د دې طرزالعمل د لیکلو موادو مطابق د ځان لپاره خوندي کړی، څېړنه او غور پرې کوي.

(۳) د ټاکنو خپلواک کمیسیون کولی شي هغه استیناف غوښتنه چې حقوقي بنسټ و نه لري له ځنډ پرته رد کړي.

(۴) له رسنیو کمیسیون څخه د استیناف غوښتنې په هکله د ټاکنو خپلواک کمیسیون تصمیمونه چې د رایو په اتفاق نیول کېږي، نهایي شي او د وروستیو اجراتو لپاره د رسنیو کمیسیون ته خبر ورکول کېږي او ورته راجع کېږي.

(۵) کله چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون درک کړه چې د رسنیو کمیسیون تصمیم د حقوقي تېروتنې او قانوني سرغړونې پر بنسټ نیول شوی او یا په ښکاره پر حقایقو ولاړ نه وي، په دې صورت کې کولی شي چې:

الف) موضوع له هدایت سره یو ځای د بیا څېړنې لپاره دوباره د رسنیو کمیسیون ته راجع کړي.

ب) او یا یې په اړه په خپله تصمیم ونیسي.

د رسنیو له کمیسیون څخه د استیناف غوښتنې اړوند ټول تصمیمونه حتمي دي چې:

الف) تصمیمونه په لیکلي ډول استیناف غوښتونکي او ځواب ورکوونکي (مدعي علیه) ته ولېږي.

ب) تصمیمونه باید د استیناف غوښتنې غونډې له جوړولو وروسته په درې ورځو کې ونیول شي.

ج) د عامه پوهاوي په موخه د کمیسیون په ویب پاڼه کې خپاره شي.

## <u>د ادارو او اشخاصو مرسته</u>

### ځلورمه ماده:

دولتي او غیر دولتي ادارې او او اړوند اشخاص مکلف دي د ټاکنو قانون د اتمې مادې له مخې د رسنیو کمیسیون سره مرسته وکړي او هغه تصمیمونه او پرېکړې چې دا کمیسیون یې د خپلو واکونو په حدودو کې نیسي رعایت او عملي کړي.

## انظباتي تدابیر

### پنځمه ماده:

د رسنیو کمیسیون کولی شي د تېروتنې او سرغړونې له تثبیت وروسته د تېروتنې او سرغړونې اخفا او شدت ته په پام لاندې تدابیر ونیسي.

1: د تېروتنې د اصلاح امر صادرول.

۲: اخطاریه.

۴: د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته د رسنیو کمیسیون له لوري د ورکړل شوي باورلیک د باطلولو وړاندیز.

۵: له شرایطو سره سم تر سل زره افغانیو پورې نغدي جریمه لګول.

6: د کمیسیون له تاید وروسته د عدلي تعقیب په موخه اړوندو مراجعو ته د حقیقي یا حکمي سرغړونکي شخص معرفي کول.

د رسنیو کمیسیون کولی شي په خپل نوبت سره رسنیزې سرغړونې او تېروتنې وپېژني او هغو ته د رسېدو غوښتنه وکړي.

## انفاذ

### شپږمه ماده:

دا طرزالعمل د تصویب له نېټې وروسته نافذ او خپرېږي.